دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

او مؤمنان چې کله هم د الله او دهغه د رسول په لور وبلل شي چې رسول دهغوی په مینځ کې فیصله وکړي نو وایي: مونږ بلنه واوریده، او ومو منله. او خلاصون د همدوی په برخه دی. او هغه کسان چې د الله او رسول منه وکړي او له الله نه ودار شي او له سرغړونې څخه یې ځان وژغوري نو همدوی بریمن دي. (النور: ۵۱ - ۵۲ آیتونه)

درس حدیث

از ابوهریره (رض) روایت است که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: «همهٔ امتیان من وارد بهشت خواهند شد مگر کسی که امتناع ورزد». صحابه عرض کردند: ای رسول خدا! چه کسی امتناع می ورزد؟ فرمود: «هرکس که از من اطاعت کند، وارد بهشت می شود و هر کس، از من نافرماني کند، در حقیقت، امتناع ورزید ه است». (صحیح البخاری)

شهادت شپږم کال، ۳۲ مه ګڼه، پرله پسې ۲۸۰ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د لیندی ۱۸ مه د ۱۴۳۲ هـ ق د صفر المظفر ۱۲ مه د۲۰۱۴ م د دسمبر ۹ مه

ارغندیوال در اجتماع جوانان گفتند:

گریز از فطرت انسانی و مخالفت با قانون الهی باعث ایجاد مصیبت می گردد

شهادت، کابل:
عبدالهادی ارغندیوال رییس حزب اسلامی افغانستان در همایش جوانان حوزه‌های پغمان و بگرامی که صبح دیروز در دفتر حزب اسلامی افغانستان تدویر یافته بود، پیرامون نقش جوانان و مبارزات آنها در اجتماع انسانی به ویژه مبارزات جوانان نهضت اسلامی و مقابله آنها در برابر اندیشه های کمونیستی بیانیهٔ مبسوطی ایراد نمودند.
رییس حزب اسلامی افغانستان هم چنان جوانان را متوجه مسوولیت های خطیر شان در این برهه حساس تاریخی در برابر ملت مسلمان و امت مسلمه ساخته و از خطرات ترویج فرهنگ غرب بر حذر داشتند.
همچنان ارغندیوال رییس حزب اسلامی افغانستان پیرامون گسترش فرهنگ تباه کن مواد مخدر در جوامع غربی و اعتیاد جوانان به مواد مخدر اشاره نموده، فرمودند که اکنون اکثرجوانان غربی با پیروی ازفرهنگ اعتیاد به استعمال مواد مخدر از قبیل: چرس، هیروئین، کوکایین و سایر مواد مضره معتاد شده که باعث فلج شدن احساس، درک و عقل انسان میگردد که در نتیجه ادامه اعتیاد به چنین مواد مضر صحت، انسان را از چوکات انسانیت خارج و به سوی غرایز حیوانیت می کشاند.
هکذا بعضی از جوامع غربی که همجنس گرایی را جنبه قانونی داده و زمینه تشویق جوانان را مساعد ساخته اند، این موضوع گریز از فطرت انسانی بوده و منافات با قانون الهی دارد که مصیبت های فراوان فردی...

(ص، ۴)

د ملي یووالي له حکومت څخه د ارزګان، بدخشان، کاپیسا او کابل د بېلا بېلو ولسوالیو د خلکو ملاتړ

شهادت، کابل:
د ارزګان، بدخشان، کاپیسا او کابل ولایت د یو شمیر ولسوالیو څخه راغلیو ځوانانو، قومي مشرانو او د حزب اسلامي افغانستان متحدینو د ملي وحدت له حکومت څخه ملاتړ وکړ.
د اجرایه ریاست د لومړی معاونیت د مطبوعاتو دفتر مسؤول "ابراهیمي" خبر راکوي چې دغه غونډه چې د وزیرانو شورا په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه هدف یې د اجرائیه ریاست لومړي معاونیت ته د انجینرمحمدخان د ټاکل کیدو مبارکي وه.
غونډه لومړی د حزب اسلامي افغانستان د ځوانانو د اجرائیه شورا غړی او د افغانستان د بني علماوو د سرتاسري شورا غړي مولوی عبدالباعث فاروق د ملي یووالي د حکومت د اجرایه ریاست لومړي مرستیال ته مبارکي وویله او نوموړي ته یې د ځوانانو خپلې غوښتنې وړاندې کړې. ...

(۴ مخ)

آغاز ماموریت جدید ناتو تحت نام "حمایت قاطع"

ماموریت جنگي نیروهای نظامی ناتو و امریکا دیروز طي مراسم تشریفاتي رسما به پایان رسید و با آغاز سال ۲۰۱۵ قرار است نیروهای ناتو نقش جدیدی را در ماموریتي با عنوان "حمایت قاطع" آغاز کند.

جنرال جان اف کمپ بیل، قوماندان امریکایی نیروهای ناتو در مراسم ختم ماموریت جنگی پیمان اتلانتیک شمالی در افغانستان گفت که قرار است در سال ۲۰۱۵ حدود ۱۳۰۰۰ نیروی ناتو در این کشور باقی بمانند. این نیروها سربازان اردو و پولیس افغانستان را آموزش و مشورت خواهند داد. این در حالیست که تعداد نیروهای ناتو در سال ۲۰۱۱ به ۱۴۰ هزار نفر می رسید.
نیروهای ناتو پس از آن وارد افغانستان شدند که مرکز تجارت جهانی در نیویارک در سال ۲۰۰۱ هدف قرار گرفت و حدود سه هزار تن در این حمله جان دادند. به دنبال این رویداد، حملات هوایی جنگنده های امریکایی بر مواضع طالبان آغاز شده و حاکمیت این گروه در سال ۲۰۰۱ سقوط کرد.
آگاهان مسایل نظامی می گویند ناتو در زماني وارد افغانستان شد که این کشور...

(ص، ۴)

د مصر حکومت افغان ځوانانو ته د تحصیلي بورسونو د ورکولو ژمنه وکړه

شهادت، کابل:
په کابل کې دمصر هیواد قونسل او دفرهنګي چارو مسؤول دافغانستان داسلامي جمهوریت داجرائیه ریاست له لومړي مرستیال انجینیر محمد خان سره د یکشنبې په ورځ په لیدنه کې افغان ځوانانو ته د مصر د تحصیلي بورسونو د ورکولو ژمنه وکړه.
داجرایيه ریاست د لومړی معاونیت مطبوعاتي دفتر خبر راکوي چې د مصر قونسل او د فرهنګي چارو مسؤول...

(۴ مخ)

نگرانی های «ران پال» از آغاز جنگ امریکا و روسیه

تشدید فعالیت های کانگرس امریکا علیه روسیه و افزایش دامنه بحران ایجاد شده در اوکراین، سبب شده است تا روز به روز تقابل واشنگتن و مسکو با یکدیگر شدت یابد. در چنین شرایطی حتا برخی تحلیلگران نسبت به بروز درگیری نظامی میان طرفین در آینده هشدار داده اند.

هم اکنون نشانه یی دال بر همگرایی روسیه و ایالات متحده در نظام بین الملل مشاهده نمی شود. نکته قابل تامل دیگر اینکه واشنگتن حتا در این صحنه پیچیده، ناتو و اتحادیه اروپا را به پیاده نظام خود تبدیل کرده است. همین مسئله سبب می شود که نزاع میان امریکا و ...

(ص، ۴)

حضور بیرونیان و احترام به حاکمیت ملی ما!

ف، فایض

افغانستان با سابقهٔ تاریخی پنجهزار ساله یک کشور مستقل با جغرافیای مشخص است، درست است که درطول تاریخ خاک ما بارها آماج حملات توسعه طلبان قرار گرفته است.
در قرن هجده و نوزده بیشترین کشورهای اروپا راه استعمار را درپیش گرفتند ودرین امرباهم رقابت داشتند: انگلیس، فرانسه، آلمان، اسپانیا، پرتگال، بلجیم، ایتالیا وغیره هرکدام درین راه بخت خود را آزموده اند، درین میان کشورماهم بدور ازچشم آزمندان استعماری باقی نمانده است. انگلیس به بهانهٔ تجارت از راه بحری به هندوستان راه یافت و...

(ص، ۳)

په افغانستان کې د اسلامي بانکوالی د پراختیا هوکړه لیک لاسلیک شو

کابل، رستي:
په افغانستان کې د اسلامي بانکداری د ودې په هدف د سوداګری خونې او المعالي په نوم یوه نړیوال شرکت ترمنځ د همکاریو تړون لاسلیک شو.
د دې تړون له مخې به یاد نړیوال شرکت په افغانستان کې د اسلامي بانکدارۍ د ودې په برخه کې د بانک مسولینو ته عامه پوهاوي او روزنه ورکوي.
د افغانستان بانک مسولین هم د دې...

(۴ مخ)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د سرپرستې کابينې دا ډول رخصتول نه و په کار

دافغانستان په تېر دیارلس کلن پېر کې څو کابینې رامنځ ته شوې، طبیعي ده چې د يو شمير وزيرانو په اجراآتو به ولس ترڅه بريده قانع وي او د يو شمېر وزيرانو له اجراآتو به ناخوښه وي. اوس هغه کابينې او هغه اجراآت دماضي او تاريخ برخه شوه چې خامخا به تاريخ هم پرې خپل قضاوت کوي او زموږ ژوندی نسل به هم پرې خپل قضاوت کوي. موږ دغسې وزيران هم درلودل چې اجراآت يې ريښتيا هم د وياړ وړ دي او دغسې به هم وي چې که هغوی په خپلو اجراآتو پخپله قضاوت کوي هم به پرې قانع نه وي.

په تېر پېرکې د اداري فساد په اړه ډېر شکايتونه موجود وو چې دولت خپله هم ترينه انکار نه شوای کولای. داسې نه ده چې په دې اداري فسادکې يوازې ټيټ پوړي چارواکي دخيل وو؛ بلکې دا اوبه به خامخا له سرچينې نه خړې وې: خو سړی په دې کې يوعمومي حکم نه شي کولای داسې چې دوچو له زوره لانده هم وسوځوي. يا داچې دچا دسترګو له خاطره دهغه پرفساد هم سترګې پټې کړي. د عظيم الشأن قرآن حکم دادی چې کله دخلکو ترمنځ حکميت کوئ نو په عدل سره يې وکړئ. د عدالت او انصاف خبره داده چې صادق ته صادق وويل شي او خاين ته خاين.

فرق د حق او د باطلو لوی حکمت دی
د دماغ او زړه همدغه عبادت دی
چې صادق او خاين بيل کړي يو له بله
نن په کار موږ ته همدومره بصيرت دی

دچا دخدمت استقبال ځان ته خپل ځای لري او څوک دهغه په ناسمو اعمالو او ناسمو اجراآتو ملامتول هم ځان ته خپل ځای لري. د خدمت او خيانت جاجول يوخو دعام ولس قضاوت دی او بل يوه مسؤوله مرجع ده چې د برائت خاوندته برائت ورکوي او د اثبات په صورت کې به مجرم ته جزا ورکوي: خوپه پټو سترګو او بې اثبات او ثبوته له يوچا سره ناسم چلند کول چې هغه په يوه ډول نه يو ډول د توهين معنا لرلای شي، دا بيا دعدل او انصاف له پولونه ښکاره عدول دی.

انتخابات وشول. نوی دولت او حکومت منځ ته راغلل، دزړې کابينې کاري دوره پوره شوه او نوې کابينه به جوړيږي، تيره کابينه که هرڅه وبلل شي که ترينه څه کم کاري او غفلت شوی وي، دې هېوادته به يې يوڅه خدمت هم کړی وي.

دوی دنوي دولت په رامنځ ته کيدو سره سرپرست وزيران وټاکل شول، دسرپرستی دمودې لپاره د اساسي قانون حکم هم څرګندی. کله چې دغه دوره پوره شوه په کار دا و چې ددغو وزيرانو په وياړ يوه غونډه جوړه شوی وای، دهغوی کړي خدمات ستايل شوی وای او په راتلونکې کې هم دضرورت پروخت تمه ورکړل شوی وای. ددې يو ښه والی خو به دا وای چې دې خلکوبه دنوي دولت پر وړاندې عقده نه اخسته او په راتلونکي کې به يې ورته لږ تر لږه ستونزې نه جوړولای او بل داچې له راتلونکو سره به هم دا انديښنه نه پيدا کيدلای چې ياره سباته به له موږ سره هم همدا چلند کيږي او دغسې چلند به يوه سيئه تګلاره وګڼل شي چې داهم داوسني دولت په ګټه کارنه دی.

هو! پاتې شوه دا چې که چا ناسم اجراآت کړي وي لکه چې داداري فساد پرخلاف دمبارزې درياست ۳۳۳ ليږلې دوسيې اوس هم په لويه څارنوالۍ کې پرتې دي او دا هره دوسيه د يو چا له فساده حکايت کوي. بيا دې نو دولت تکړه شي او زموږ دعاده چې تکړه شي، چې دغه دوسيې وڅېړي او د اثبات په صورت کې په فساد سره کې ښکيلو کسانو ته داکه هر څوک وي او په ماضي کې په هر مقام کې و. دقانون له احکامو سمه جزا ورکړي، چې ددوی په برخه کې عدالت تأمين شي او د راتلونکو له پاره عبرت شي، دولت ته لوی زړه په کار دی، له احساساتو نه څه نه جوړيږي، بلکې دولتداری د تدبرکار دی بايد هرکار په تدبير سره وشي او قانون پلی کړای شي چې دقانون دپلی کولو لارې چارې هم پخپله قانون را په ګوته کړي دي.

فرحتيار

با حلوا گفتن دهن شیرین نمی شود

ناپلیون بناپارت نخستین امپراتور فرانسه و یکی از معروف ترین فرماندهان نظامی تاریخ گفته بود که: ((با صلح گفتن دنیا امن نمی شود)). چنانچه ضرب المثل معروفی است که می گویند: ((با حلوا گفتن دهن شیرین نمی گردد)).

همه از صلح این کلمهٔ سه حرفی سخن می زنند، ولی در این سه دهه ساکنان این کشور موفق نگردیدند که حتا آن را لمس نمایند. دانش آموز به خاطر فراگیری صلح به مکتب می رود ولی دشمنان صلح در نیمه راه جانش را می گیرند، دکاندار صبح هنگام به منظور خرید صلح می‌خواهد دکان خود را باز نماید ولی سوداگران ترور و وحشت، صلح اش را به بهای خونش می خرند و نا امنی را مفت به خانواده اش به ارمغان می دهند، دهقان به امید بارور شدن ریشه های امنیت، تخم صلح را در مزرعهٔ امید خود می کارد، ولی حشرات مضره صلح، درخت مثمرش را از ریشه می خورند، سرباز دلیر و قهرمان وطن بخاطر تامین صلح برای هموطنانش، در سنگر جنگ تحمیلی با صلح ستیزان فداکارانه می رزمد، ولی مدعیان دروغین صلح، سنگر گرم او را با خون داغش گلگون می سازند، زمامداران وسیاستمداران کشور در نخستین کلام شان از صلح سخن می گویند و صلح را در اولویت برنامه های کاری شان قرار می دهند، ولی دشمنان صلح موقع تطبیق این برنامه را برای شان نمی‌دهند.

آخر این صلح کدام معمای حل ناشدنی است که همه در پی آن سرگردان اند ولی به آن دست نمی یابند.

آیا واقعاً صلح عنقایی است که به دست آوردنش محال و ناممکن می باشد؟ آیا صلح یک کلمهٔ اسطوره یی است که شهروندان افغانستان در این مدت سی سال سینه به سینه آن را نقل نموده و به واقعیت کلمه دست نیافته اند؟

کارشناسان امور سیاسی به این نظر اند که ایجاد صلح بدون طرح برنامه ها و راهکار های اساسی ممکن نخواهد بود.

برای ایجاد صلح و تامین امنیت در قدم نخست باید برنامه ها و پلان های اساسی سنجیده شود، سپس برای پیاده نمودن این برنامه ها، استراتیژی و راهکار های منظمی طرح گردد و در نهایت شیوه هایی بکار گرفته شود که مجریان این برنامه از عهدهٔ این مامول به نیکویی برآمده و فرآیند این دست آورد های شان برای مردم رنجدیدهٔ این میهن جنگ زده که مدت سه دهه است که با جنگ خانمانسوز تحمیلی دست و پنجه نرم می کنند، قربانی می دهند، در آتش حملات انتحاری و انفجار می سوزند، اعضای بدن خویش را از دست می دهند، بیوه می شوند، بیچاره می گردند، یتیم و بی سرپناه می‌شوند، خساره‌مند می گردند، خانه و کاشانهٔ خود را از دست می دهند، قناعت بخش بوده و سرانجام از این همه دغدغه های نافرجام که دامنگیر شان شده، نجات یابند.

ولی با تاسف که در طول این مدت قایقرانان کشتی شکستهٔ صلح با بی برنامه گی، غافل از ترفند های محیلانهٔ دشمنان صلح و امنیت به سوی ساحلی که انجامش معلوم نیست، درحرکت اند و ملت رنجدیده را در بحر بیکران صلح نیم بند در معرض توفان شدید دریایی و امواج پر تلاطم بحری رها نموده اند که نه امید رسیدن به ساحل نجات متصور است و نه اعتباری به این قایق شکسته که مسافرانش را به سر منزل مقصود برساند.

قایقرانان کشتی شکستهٔ صلح بدون در نظرداشت بُعد ساحل و توفان بحری به امید رسیدن به سر منزل مقصود، قایق را در بحر بیکران توقعات نافرجام پارو می زنند، غافل از اینکه ساحل امید، بعید و شارک ها و نهنگان خون آشام دریایی در انتظار طعمه های چرب و نرم.

حال سوال اساسی در این جاست که تا به کی به خاطر خوش باوری های زمامداران و بی التفاتی مسؤولان، شهروندان این سرزمین منتظر اجل معلق بوده و تیر کینه توزانه و زهر آگین دشمنان صلح و آرامش انسان و انسانیت سینهٔ بی کینه هموطنان ما را آماج قرار بدهند.

بر زمامداران با احساس کشور است تا به سخنان فریبندهٔ شکارچیان و صیادان مکار، گوش فرا نداده و به منظور رسیدن به هدف نامعلوم، تیر را در تاریکی رها نسازند.

بلکه موضوع صلح را از زوایا و ابعاد مختلف سیاسی و نظامی بررسی و موشکافی نموده و از سطح نگری به عمق نگری بپردازند، تا یک صلح سرتاسری که آرزوی دیرینهٔ همه شهروندان‌این کشور اعم از پیر و برنا و زن و مرد است، برقرار گردد. و بعد از مدت های مدید، مردمان صلح‌طلب و امن‌خواه این مرز و بوم به آرزوی دیرینهٔ شان نایل گردند.

دکابينې له اعلان وروسته دحکومت مکلفيتونه څه دي او څه بايد وي؟

فروغګر

* اقتصادي وده: په دې برخه کې به زموږ حکومت هڅه کوي چې هيواد په اقتصادی زيرمو به ښو ودروي، زموږ هيواد خدای ورکړي بلا زيرمې لري چې په سهې کارولو سره يې کولی شو په لنډه موده کې داقتصادی ودې په برخه کې مو دسيمې هيوادونو په قطارکې ودروي او يا ترردوی هم مخ کې شو. حکومت دهيواد معادنوته په پاملرنې سره له ژمنو هيوادونو سره عادلانه قراردادونه وکړي او پرې ترډې چې زموږ دکانونو استخراج هم دمنطقوی سياليو قرباني شي، دنړۍ ډيرهيوادونه دی ته چمتو دي چې دمعادنو داستخراج په څانګه کې له موږ سره قرار دادونه وکړي او دعدالت دمعيارونو پر بنسټ له موږ سره دمعاملې بازارته داخل شي: وسپنه لرو، مس لرو، ډبرو سکاره لرو، يورانيم لرو، دقيمتي کانو پراخې سيمې لرو، طلا لرو، تيل اوګاز لرو، خو يوڅه چې نه لرو، هغه ددغو زيرمو دويستلو منطقي او عالمانه مشروعيت دی او په ځنګ کې يې اداري فساد زموږ داقتصاد دالويه برخه دموږيانې په شان خوري، هغو کسانو، لوړ پوړي چارواکي، زورمندان او نورې کړی چې زموږ دزيرمو دايستلو په برخه کې خيانت کړی له چا پټ نه دي، هغوی ښايي ونيول شي او له پوره تحقيق نه وروسته مجازات شي او هغه پيسې چې يې له دې درکه لاس ته راوړي ترې واخستل شي او بيت المال په حق کې ضبط شي.

زموږ داقتصادی ودې بله منبع زموږ آبي امکانات وي، موږ همدا اوس په هيوادکې داسې سيندونه لرو چې دهريو پرسرېې څوڅو بندونه وتړو او په دوو برخوکې کارترې واخلو يعنی هم د بريښنا دتوليد په څانګه کې او هم دشاړو دښتو ميرو په خروبولوکې، که چيرې زموږ مرتبط وزارتونه خپلو دندو او مکلفيتونوته په کتو سره په هيوادکې زيربنايي غټو پروژوته لاس واچوي: مثلاً د اوبو او برښنا وزارت، دکرنې وزارت، دمعدن او صنايعو وزارت زه موجوده حکومت ته داد ورکوم چې په لنډه موده کې به زموږ اقتصاد داسې وده وکړي چې دسيمې له اقتصادی ودی سره دغږې ووهي؛ د اوبو لګولو بنسټيزې پروژې، دکرنې عصري وده اوپه ځنګ کې يې دهيواد باغداري او مالداري سيستم ته جدي پاملرنه خوراښې پايلې لرلی شي: دتازه ميوومارکيټ او دوچو ميوو پروسس او صادرول او هغه ته په بهرکې بازارياب. داټول هغه غوره ترجيحات دي چې پر نورو عايداتو سربيره په يوازې توګه هم زموږ داولس، هم دسوداګرو او هم دحکومت ډيرې اقتصادی ستونزې اوارې کړي.

که چيرې د بريښنا دتوليدولو په برخه کې پرنستيزو پروژو پانګونه وشي، موږ به دومره بريښنا توليدکړو چې بهرنيو هيوادونوته يې هم صادرکړو او که د اوبو لګولو په سيستم کې عصري بدلونونه راولي، موږ دکرنې دومره امانات لرو چې زموږ اولس دخوراکي توکو له پلوه پربسيا کولو سربيره دومره توليدات ولرو چې بهرته يې هم صادرکړو.

* موږ څو لسيزې پخوا دعنعنوی مالداری، له لارې وړې، پوستکي او دقره قل خولې او همدارنګه لاسي غالۍ بهرته صادرکړو او پرخپلو پووندويې په مناسبه بيه خرڅ کړو، زموږ دغالۍ صنعت به هم وده وکړي او موږ به په خپله ډبوټ جوړولو، لوبې فابريکې ولرو، همدا اوس زموږ دغاليودصنعت ډير ورزيده هنرمند صنعتکاران په ګاونډيو هيوادوکې په توليد بوخت دي چې توليدات يې دهماغو هيوادونو په نامه بين المللي بازارونوته لېږل کيږي او دلاسي صنايعو په مسابقو کې زموږ له توليداتونه نورهيوادونه جوايز ترلاسه کوي: حکومت ددغو صنعتي هنرمندانو دجلب او جذب لپاره ښايي، هغوی ته دا زمينه مساعده کړي چې هيوادته راستانه شي او دلته ورته کاري اسانتياوې برابرې شي.

* زموږ هيواد دمعالجې او طب په برخه کې خورا وروسته پاتې هيوادی او لامل يې هم خورا واضح اوښکاره ده: هغه داچې موږ دطبې کدرونو په برخه کې پرعملي کار ډيره لږه اتکاکوو، نظری طب لرو؛ عملي نه، دطب پوهنتون دمحصلانو د روزلو لپاره بايد سربيره پرمجربو استادانو دعصری طب ټول هغه وسايل چې په عملي طب کې ترې سبا په کارول کيږی دطب پوهنتونونوته مهيا کړي او په ځنګ کې يې د دواګانو دتوليد کارخانې جوړې کړي: څکه نن سبا ددواګانو په تجارت کې دومره تقلب رامنځ ته شوی چې په وارد وشوو دواګانو کې ۵۰ سلنه هغه مواد کم وي چې دهرې دوا دستندرد ضمانت کوي او همدارنګه دهغو هيوادونو ددواګانو دواردېدلو مخه ونيسي چې کم کيفيته يا بې کيفيته دواګانې توليدوي او بيايې زموږ پرسوداګرو پلوري، موږ بايد ترلسو راتلونکو کلونو پورې د طب په بيلا بيلو برخو کې مجهزې شفاخانې او مستعد کدرونه ولرو، څو تردې وروسته زموږ ناروغان بهرنيو هيوادونوته دمعالجې لپاره د ورتګ مخنيوی وکړي.

* موږ په تيرو دوروکې داطلاعاتو او فرهنګ وزارت دفعاليتونو شاهدان و، که چيرې ددې وزارت دنده يوازې د زيارتونو بيارغول وي، خو بيا زموږ ملت په هيڅ صورت کې هم دغې وزارت ته اړتيا نه لري.

او که چيرې ددې وزارت دنده...

(۳ مخ)

حضور بیرونیان و احترام به...

(ادامه از صفحه اول)

... روسیهٔ آن وقت هم چشم طمع به رسیدن به آبهای گرم داشت. فلهذا انگلیس ازین ناحیه تشویش داشت. انگلیس در ابتدا پادشاهی سیکها به قیادت رنجیت سنگ درپنجاب را پذیرفت تا سدی باشد بین انگلیس و افغانها وضمناً انگلیسها میخواستند سیکها را دربرابرافغانها بجنگانندکه همین سان شد. پشاور درنتیجهٔ خیانت «برادران پشاوری» که در رأس شان سلطان محمدخان طلایی قرار داشت به سیکها سپرده شد و زمانی که دوست محمدخان خواست پشاور را دوباره تصاحب شود. برادران او به تحریک انگلیس دست به شورش زدند که دوست محمدخان ناچار از رفتن به پشاور منصرف شد و دوباره به کابل برگشت. انگلیس سه بارخواست خاک افغانستان را دراشغال کامل خود درآورده جزء قلمروهند برتانوی سازد؛ ولی شهامت وغرور ملت افغان به انگلیس این اجازه را نداد و انگلیسها هرسه بار با شکست مواجه شدند؛ ولی این حقیقت را باید بپذیریم که انگلیسها هربارشکست درصحنهٔ نظامی را از راه سیاسی تلافی کردند.

بهمه حال حرف من برسر این بود که افغانستان درطول تاریخ یک کشور آزاده باقی مانده است. آمدن امریکا وناتو درسال ۲۰۰۱ به افغانستان آنچنان که به همه گان معلوم است، داستان دیگری دارد. بهانهٔ این آمدن هرچه بود، از انظارجهانیان و ملت افغان پوشیده نیست: ولی علی الظاهرحوادث یازدهم سپتامبر همان سال بالای نیویارک وواشنگتن زمینهٔ این آمدن به افغانستان را مهیا ساخت. گرچه القاعده که این حوادث به آن منسوب شد، آنقدر قوت بزرگی نبود که همهٔ جهان غرب و هم‌پیمانان و دوستان جهانی ومنطقوی آنها بابوق وسرنا علیه آن برخیزد؛ ولی هرچه بود القاعده یک تنظیم تروریست خوانده شد و حامیان آنها شامل همین لست شدند تا حضور نیروهای خارجی در افغانستان مشروعیت پیدا کند.

گرچه درآغاز چنان تصورمیشد که افغانستان دیگرنفس آرام خواهد کشید. جنگها پایان خواهدیافت وکبوتر صلح براین سرزمین سایه خواهد گسترد. ما درآغاز تاتخمیناً دوسال کم و بیش شاهد آرامش نسبی درکشور خود بودیم و مردم به دور ترین نقاط کشور، میتوانستند سفرکنند و هیچگونه هراس وتشویشی نداشته باشند؛ اما بعدها دیدیم که آتش جنگ آرام آرام بار دیگر زبانه کشید وباگذشت هرروز، هرهفته وهرماه قوت بیشتر یافت وحتی فرهنگ انتحار که یک پدیدهٔ کاملاً جدیدی برای افغانها بود واردمیدان کارزار شد و سناریوی دیگری چهره نمایی کرد، پدیدهٔ جنگ

هنوزهم باقوت روز افزون درکشور ما وجود دارد وهمه روزه پنج، ده و بیست افغان به یک نام و دیگرنام کشته میشوند کسی به نام موافق وکسی هم بنام مخالف. ولی حقیقت آن است که افغانها بجرم داشتن روحیهٔ آزادگی کشته میشوند. کشورما راگرچه «قلب آسیا» خوانده اند و حقیقت هم همین است وکشورهای استعمارگر هم ازهمان قرن هجده ونزده دریافته بودند که هرگاه این قلب را بدست آوردي تمام براعظم آسیا از آن توست وهرگاه فسادی به این قلب راه یافت همه بدن آسیا فاسد خواهد شد. متأسفانه ملت ما درطول تاریخ بخاطر اهداف بیگانگان قربانی شده است و روزهای دشواری را پشت سر گذاشته است. ماهمین حالا بخاطر اهداف دیگران قربانی میشویم وقربانی میدهیم.

بعد از شکست روسها درافغانستان و سقوط حکومت کمونستی چرا جنگ درافغانستان؟ آنچنان که ثابت شد ما دربین خود هیچ انگیزه ی برای جنگ نداشتیم. افغانستان خانهٔ همهٔ افغانها بود و همهٔ افغانها درکشورخود حقوق برادرانه داشتند هیچکس نمیتوانست حقوق دیگران رانفی کند. ولی این همه تحرکات بیشتر از جاهای دیگری آبیاری میشد وهدف این بودکه افغانستان برای یک مدت طولانی مصروف جنگ باشد که به این ترتیب آنها درین آب گل آلود ماهی بگیرند.

این همه تجارب به مانشان داد که باید تمام تلاش ما در راه تأمین امنیت و اعادهٔ صلح درکشور باشد. بناء افغانها حق داشتند وحق دارند تا از تمام راه های مشروع در راه اعاده صلح کار بگیرند؛ ولی آنانی که آتش جنگ را درکشور ما مشتعل ساخته اند. هنوزهم میخواهند وتلاش دارند این آتش بیش از پیش مشتعل باشد و زبانه بکشد؛ زیرا آنها هنوز به اهداف خود در افغانستان و بااستفاده از اینجا درمنطقه نرسیده اند.

قریب به یک، یکنیم سال قبل لطیف الله مسعود معاون تحریک طالبان پاکستان به کابل میآمد تا درراه تأمین با دولت وقت افغانستان درتفاهم شود ولی او در ولایت لوگر از دفتر امنیت ملی از سوی نیروهای خارجی ربوده شد و تا اکنون درنظارت آنها قررا داشت. چنین یک حرکت خود بمعنای نقض حاکمیت ملی افغانستان بود. روز یکشنبه مورخ (۱۶/۹/۱۳۹۳) رسانه ها اعلان کردند که لطیف الله مسعود از سوی نیروهای امریکایی همراه با دوتن از همراهانش به دولت پاکستان سپرده شدند. مقامات امریکایی هم با صدور اعلامیه یی این حقیقت را پذیرفتند.

رسانه ها از قول نظیف الله سالارزی سخنگوی رئیس جمهور بنشر سپردند که لطیف الله مسعود نزد دولت افغانستان نبود و آنها درین رابطه مصروف جمع آوری معلومات هستند. روزنامهٔ ویسا، چاپ کابل در شمارهٔ دیروزی خود (۱۷/۹/۱۳۹۳) با خط درشت نوشت که امریکا، لطیف الله مسعود را بدون مشورهٔ دولت افغانستان به پاکستان سپرده است. روزنامه می افزاید که او بخاطر یک ماموریت صلح به کابل آمده بود.

خوب در اینجا چند مسأله مطمح بحث میتواند باشد:

۱- اینکه لطیف الله مسعود طبعاً به اجازهٔ دولت افغانستان آمده بود ودرحقیقت مهمان افغانستان بود این خلاف عرف پذیرفته شدهٔ مهمان نوازی است که کسی مهمانش را چنین توهین کند. اگر دیگران برین عرف باور نداشته باشند. ولی افغانها درطول تاریخ آنرا ثابت کرده اند.

۲- اخیراً دوکتور اشرف غنی رئیس جمهورافغانستان به پاکستان سفر نمود و بارهبران ملکی ونظامی آن کشور دیدار نمود که بعد از آن روابط دوکشور رو به بهبود گذاشته است. نشود که این اقدام، اخلالی باشد برای برهم زدن روابط و اعتماد درحال بهبود.

۳- اینکه این اقدام بدون مشورهٔ دولت افغانستان صورت گرفته است فلهذا این یک تخلف آشکار از احترام به حاکمیت ملی افغانستان است و افغانها هرگز حاضر نیستند بر ارزشهای پذیرفته شدهٔ خود باکسی معامله کنند.

دکابینې له اعلان وروسته دحکومت ...

(د دویم مخ پاتې برخه)

... رسنیوته وده، درسنیو اصلاح، دکتاب او کتابخانو غنی کول او دهیواد داتباعو فکري تغذیه وي. نو تراوسه پورې دغه وزارت په دی برخه کې څه کړي دي؟

زموږ پرفرهنګ دبهرنیو فرهنګونو خورا سترېرغل پیل شوی دی او ورو ورو زموږ فرهنګ مسخ کوي؛ مګر دا وزارت لاس ترزنې ناست دی. بلکې کله ناکله د پردیو په چوپړکې کارکوي. له نوي حکومته زموږ هیله داده چې زموږ فرهنګ زموږ په خپل فرهنګ ورغوي. پردي پالې رسنۍ متوقفې کړي. د تالیف او ترجمې په برخه کې زموږ دفرهنګي غنا لپاره ګټورکتابونه تالیف کړي یاېې وژباړي او بازارته یې وړاندې کړي. ان دمعارف او لوړو تحصیلاتو دنصابی کتابونو مهرکتابونه چاپ کړي او زموږ رسنۍ، داسې ورغوي چې هم د پردیو دفرهنګی یرغل مخه ونیسي او هم دملت دتنویر او ویښتابه لپاره کافی مواد ولري.

* دیني مدارسو ته داسې نصاب جوړشي چې زموږ طالبان بهرته دزده کړو لپاره ورتګ نه وارويي او په همدغو مدارسو کې ټول دیني علوم زده کړي او ددستاربندۍ مرحلې ته ورسیږي حنفي فقهي ته داسې وده ورکړي چې زبده مفتیان ولرو چې کیدای شي، همدغه مفتیان دلندمهالو کورسونو له اخیستلو وروسته دقضا او افتاء جوګه شي، همدارنګه ددیني کتابونو دنصاب ترڅنګ دعصري علومو زده کړه هم زموږ په مدارسو کې حتمي وګڼل شي، امامت یوازې د پنځه وخته لمانځه او اذان لپاره مقیدنشي؛ بلکې امامان مکلف شي چې د امربالمعروف او نهی عن المنکر ترڅنګ دخپلو کلیوالو خپل منځی شخړې هم دقرآن او سنت په رڼاکې حل کړي او دطرفینو دنه قناعت په صورت کې دواړه لوري له خپل لیکلي نظر سره دسیمی قضا ته معرفی کړي. امامان سربیره پردې لـه حکومتي مرتبطو اورګانونو سره میاشتنۍ ناستې ولري او هلته خپلې ستونزې مطرح کړي.

* دبورسونو په برخه کې لویه تشه اوس هم شته. دېرې هغه محصلان بهرته دتحصیل لپاره لیږل کیږي چې له مقاماتو سره خپلوي لري، یا دقومیت په تارکې ورسره تړلي اویاهم د رشوت په ورکولو داچانس تر لاسه کوي. هیله ده چې په دې برخه کې نوی حکومت رغنده ګامونه واخلي.

څوک د سولې د راوستلو مسؤولیت لري؟

عبیدالله صافی

دایو څرګند واقعیت دی چې په ګران هیوادکې دجګړو کومه زړه بوګنوونکې وضعه حاکمه ده هیواد وال ترینه ترپوزې راغلي دي او غواړي چې ژرترژره له دې ځورووونکي حالت نه نجات ترلاسه کړي.

که موږ دخپل اولس دځو لسیزو ستونزوته په غور وګورو، نو دا به خامخا ومنو چې په نړۍ کې بل هیڅ داسې ملت نشته چې دافغانانو په څیر له ستونزو دکې شپې ورځې ولري. له بده مرغه دافغانانو ستونزې لږ نه؛ بلکې دومره ډیرې دي چې له زغم نه وتلي دي، نه یې څوک د زغملو توان لري او نه هم دهیرولو. انسان داسې نازک مخلوق دی چې له حوادثو نه په فطري ډول متأثره کیږي او بالاخره دهغه پروړاندې دناتوانۍ لاسونه پورته کوي او سلامي کیږي. انسان طبیعتاً خوراک څښاک د اوسیدو ځای، امن، ښوونې روزنې، عدالت خوښې او تفریح ته اړتیا لري. له بده مرغه دافغانستان مطلق اکثریت وګړي دځه کم څلورو لسیزو راهیسې په هیواد کې دجنګ جګړو له کبله له دغو اړینو انساني اسانتیا وځخه محروم ژوند تیروي. دغو ستونزو دافغانستان په زیاترو وګړوکې داسې غمونه او اندیښنې راټوکولې چې دهغوی دفاعي سیستم یې ختم کړی او په سلوکې اتیا په رواني ناروغۍ اخته شوي دي. زغم او حوصله یې تردی کچه کمه شوې چې په ډیرو وړو وړو خبرو پروژنو لاس پورې کوي. ددی کار یواځینۍ لامل دادی چې له جنګونو مرګونو اوغمونو پرته بل هیڅ خوښي نه ویني، نه یې څوک پوښتنې وا لاشته اونه هم داسې څوک لري چې هم دمظلوم حق له ظالم نه واخلي او هم سزا ورته ورکړي. لا قانونیت پرقانون کاملاً خپله تورسیوری خپورکړی او دقانون مری یې داسې زبېښلې چې دمرګ سلګې وهي. ظالم خوهسې هم سخت زړی او بې رحمه وي او دداړونکي ځنګلي ځناور په څیر خپل ښکار کوي. مګر وایه کمزوری او مظلوم ته چې هروخت دظالمانو ښکارګرځي او د مظلومیت په ژرنده کې له دل کیدو پرته بل هیڅ لاره نه لري، چیرته چې قانون مظلوم او ظلم سالاران ازاد خپل ښکارکوي هلته به دمظلوم فریادڅوک اوری اوحق به یې څنګه تأمنیږي؟ افغانستان ته د امریکایي او ناټو ځواکونو له راتلو وروسته هیوادوال په عجیب او غریب حالت کې قررا لري، څلور خواوې ترینه دمرګ باران راتاودي نه ښار میشت وګړي د امن له خوړونه برخمن دي او نه هم له ښاره دباندې اوسیدونکي؛ بلکې ټول په ویره او غم کې شپې سباکوي، په ځانګړي ډول دښارونو دباندې په ناامنو ساحوکې چې کوم هیوادوال ژوندکوي دهغوی ژوند خو دومره دردوونکی او زوروونکی دی چې قلم دهغه دکیفیت له لیکونه عاجز دی، دافغانستان مطلق اکثریت وګړي د ژوند اومرګ ترمنځ دکشمکش په حالت کې قرار لري، هرڅوک خپل مرګ ۲۴ ساعته مخامخ ویني او لحظې شماري چې څه به ورسره کیږي؟ آخر داسې یواولس چې یوه شیبه هم دمرګ له ویرې پرته دخوشحالۍ ژوند نشي تیرولای څنګه کولای شي په نورمال ډول خپل ژوندته ادامه ورکړي او دژوند په ګټو دګرونوکې پرمختګ وکړي؟

مخالفین دا ادعا کوي چې موږ د پردیو داشغال پر خلاف جهاد کوو او خپل استقلال او ملي حاکمیت ګټو؛ مګر حکومت هم ادعا کوي چې دخپل هیواد داستقلال او پرمختګ لپاره مو ملاتړلې نه غواړو دبل چا دغلامۍ حلقې په غاړوکې واچوو او لـه خپل استقلال نه لاس پرسرشو دواړه لوري عملاً د یو بل دکمزوري کولو او له صحنې نه د محوکولو په لټه کې دي؛ خوداجګړه تر اوسه ګټونکې او بایلونکې نه لري. دافغانانو ژوند یې تریخ کړی او هره ورځ د سر او مال قرباني ورکوي. دغه حالت افغانان تر پوزی راوستي او ژرترژره ددغې جګړې خاتمه غواړي. تیرې څوارلس کلنې جګړې ته په کتو سره اولس نور ددواړو لوریونه دجنګ ګټلو له منطق نه ناهیلی شوی او ددی حوصله نه لري چې له دې وروسته لا هم د مرګونو، ویرونو، ناامنیو اودغربت ستونزې پرځان ومنې؛ نو ځکه اولس له دولت او وسله والو مخالفینو څخه په کلکه غواړي چې دخدای په خاطر نور هیواد دجنګ جګړې په اورکې مه سوځوئ، هسې نه چې دا وطن ددواړو له لاسوځخه ووځي او زموږ دازلي دښمنانو په لاس کې ولویږي، که څبره رښتیا دهیواد داستقلال، ملي حاکمیت او استحکام وي او دواړه لوري دهمدی مقصد لپاره کارکوي؛ نو بیا مشکل حل دی، دواړه دې دهیواد اوولس د بهبود لپاره په ښېګړې رښتونولۍ او اخلاص سره دسولې خبرو اترو ته کیني، دیوبل وړاندیزونه او تحلیلونه دې واوري، اصلي ستونزې او داختلاف ټکي دې شریک کړي او ترهغې دی خپلې خبرې اترې جاري وساتي چې نتیجې ته نه وي رسیدلي.

> دخیر په کار کې عجله پکار ده څنې د هیواد او افغانانو په تاوان دی او دښمنانو ته له دی دوامداره خپلمنځي اختلافاتونه دا فرصت په لاس ورځي چې خپل شوم اغراض نورهم په ډیر قوت سره پرمخ یوسي او افغانستان دخپلو ګټو ډګر وګرځوي، دهغوی ددغو شومو اغراضو مخنیوې یوازې او یوازې د افغانانو د ملي یووالې، یباوړې اتفاق او په یومنظم فولادي صف کې د ودریدو له لارې کیدای شي؛ نه دجګړو او بې اتفاقیو له لارې، فلهذا حکومت او مخالفین اسلامي او ملي مسؤولیت لري چې دچا له سرپرستۍ او مشورو پرته یخپلو کې سره راجرګه شي، نیغ په نیغه خبرې اترې وکړي او په هیواد کې دبوې دایمي سولې او استحکام په خاطر یوبل ته دورورۍ داسې مزبوت لاسونه ورکړي چې دراتلونکې لپاره دښمنانوته په افغانستان کې دغرض لاسونو ددننه کولو هیڅ موقع پرلاس ورنشي.

دولت اومخالف وسله وال دې دا تریخ حقیقت ومني چې جګړی څومره اوږدیږي هغومره داولس له ملاتړنه محروميږي، ځکه چې دهیواد غوڅ اکثریت وګړي همدا غواړي چې دولت او مخالفین دی دهیواد او اولس دمجموعي خیر په نظرکی نیولو سره دیو بل دوژلو او ختمولو پرځای دسولې پرتغره کیني او په دی څبره دې سره توافق وکړي چې دخپل دین، فرهنګ، هیواد، او د اولس دخدمت لپاره چې هره لاره ګټوره او موثره وي په ګډه په یواتفاق ورباندې روان شي. د افغانستان غیرتي اولس چې دنړی په تاریخ کې له بل هرچا دخپل دین اواستقلال په خاطر ډیرې قرباني ورکړي نه غواړي چې احمد اومحمود دې دخپل اقتدار په خاطر د نورو په څولیوکې واچوي،

پاتې ۴ مخ

د هغو ځوانو ملګرو ته وقف شوې ده چې ...

شهادت

اوونیزه

خپرونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
دامتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
د هیات تحریر تر څارنې لاندې
د دفتر شمیره: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت پر وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته زیان ونه رسي.
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي.
• یوازې سرلیکنه د شهادت اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

ځوک د سولې د راوستلو ...

(د ۳ مخ پاتې برخه)

... مخالفین او حکومت دې دا واقعیت ومني چې سوله دافغانانو بنسټیزه اړتیاده، هرڅوک چې له سولې نه په ناروا بهانو ځنګ کوي هغه کله هم دملت خواخوږي نشي ترلاسه کولای، له سولې نه تېښته او په مختلفو عنوانو دسولې پروړاندي خنډونه جوړول اولس ته دمنلونه دي، سوله په هرحالت کې الهی امردی اوافغانان یې په هرصورت غواړي؛ خو دا پخپله نه راځي چې دمرغۍ په څېر په هواکې والوځي اوافغانستان کې خپلې وزرې وغړوي؛ بلکې ددې دراوستو لپاره پولړ اصولي او اساسي کارونوترسره کول ضروري دي هغه دا چې لومړی باید دجګړې او اختلاف هغه عوامل وڅېړل شي چې سوله یېزه فضایې په جګړییزه فضا بدله کړې ده او دهیواد اوسیدونکي یې پخپلو کې دیوبل پرخلاف دوسلې د اوچتولو او دیوبل وژلوته اړ کړي دي، که په واقعي معنی د اختلاف ستر عوامل له منځه یووړل شي او دهیواد دګټو په نظرکې نیولو سره یو جامع موافقې ته ورسیږي؛ نو داسې هیڅ خنډ نشته چې دسولې مخه ونیسي او افغانان پخپلو کې داتفاق پرتګرله غونډیدو څخه منع کړي.

اولس د ملي یووالي دحکومت مشرانو چې له مخالفینو سره دسولې د خبرو اترو کوم وړاندیز کړی دی هرکلی یې کوي او په ټینګه ترینه غوښتنه کوي چې ددې دکامیابولو لپاره دمخالفینو پرځینو هغو غوښتنو غور وکړی چې دهیواد دمجموعي ګټو سره په ټکرکې نه وي.

همدارازدافغانستان مجاهد اولس، له مخالفینو څخه هم جدا غواړي چې کومه غوټه په لاس خلاصیږي پرغاښونو د خلاصولو کوښښ دی نه کوی ځکه چې سوله نیکبختی راولي او جګړې بدبختي افغانان سوله یېز ژوند غواړي اوله دی پرته پربل هیڅ شی نه قانع کیږي.

وزیر اطلاع‌رسانی پاکستان:

تا زمانی که عمران خان رفتار خود را تغییر ندهد دلیلی برای مذاکره با وی وجود نخواهد داشت

وزیر اطلاع‌رسانی پاکستان با اشاره به تلاش نواز شریف برای مذاکره با عمران خان بر ضرورت تغییر رفتار وی برای آغاز مجدد مذاکرات میان دولت و حزب تحریک انصاف تأکید کرد.

« پرویز رشید» وزیر اطلاع رسانی پاکستان در جواب اعتراض عمران خان گفته است که دولت به دیوان عالی کشور به منظور تشکیل کمیسیون قضایی برای بازرسی از انتخابات می ۲۰۰۳ میلادی و بررسی اتهامات تقلب، نامه یی ارسال نموده است، حال کدام مشکلی برای دولت برای مذاکره با تحریک انصاف پاکستان باقی نمانده است.

سناتور رشید همچنان اضافه کرد: اکنون معتقد است که نه تنها «عمران خان» باید به حزب خود اعلام کند که حزبش در تظاهرات شرکت نکند و هوا خواهان خود را از صحنه عقب بکشد، بلکه خودش نیز بر سر میز مذاکره بنشیند.

رشید افزوده است: رفتار عمران خان هیچ گزینه یی را برای دولت به منظور از سرگیری مذاکرات با تحریک انصاف پاکستان باقی نگذاشته است. عمران خان در کنفرانس خود در روز یکشنبه همین هفته، گفته بود اگر گزارش کمیسیون قضایی را بر خلاف منافع خود دریابد، نخواهد پذیرفت.

رشید در ادامه افزوده است: چه لزومی دارد حالا که رییس تحریک انصاف پاکستان اعلام کرده که این گزارش را نخواهد پذیرفت، کمیسیون قضایی در مقابل این حزب قرار بگیرد!

وی ادعا کرد: اگر عمران خان سؤالی از کمیسیون قضایی دارد، در ابتدا باید تمام برنامه های خود را لغو کند و به تحصن خود در اسلام‌آباد پایان دهد.

رشید در آخر با اشاره به برنامه های ناموفق پیشین حزب تحریک انصاف گفت: تلاش عمران خان برای تعطیلی «فیصل‌آباد» امر ناممکن است. فیصل‌آباد در ۸ دسمبر باز باقی مانده و بطور عادی به کار خود ادامه خواهد داد.

قرار یک خبر دیگر تظاهرات روز دوشنبه حزب « تحریک انصاف» پاکستان به خشونت کشیده شد.

اعضای حزب تحریک انصاف پاکستان و حزب حاکم (مسلم لیگ شاخه نواز شریف) با برپایی تظاهرات که در برابر یکدیگر صف کشیده بودند، پولیس برای جلوگیری از درگیری بین آنها وارد عمل شده و با اعضای حزب تحریک انصاف درگیر شد.

در اسلام‌آباد، اعضای حزب تحریک انصاف تمام تلاش خود را برای به تعطیلی کشاندن شهر فیصل‌آباد مرکز صنعتی پاکستان به کار می‌برند.

اعضای حزب تحریک انصاف با برپایی تظاهرات ضد دولتی و به آتش کشیدن تایر های وسایط نقلیه جاده ها و سرک های اصلی شهر فیصل‌آباد از توابع ایالت پنجاب را بستند.

به دستور دولت ایالتی پنجاب بیش از ۱۵۰۰ پولیس ضد شورش به شهر فیصل آباد اعزام گردیده و درگیری‌های پراگنده یی بین پولیس و اعضای حزب تحریک انصاف صورت گرفته است.

هنوز آمار دقیق زخمی ها و آسیب دیده گان این درگیری مشخص نیست. با این وجود دولت پنجاب با اعلام وضع فوق‌العاده در شفاخانه های شهر فیصل‌آباد دستور داد تا زخمی‌ها به سرعت مداوا شوند.

« عمران خان» رهبر حزب «تحریک انصاف پاکستان» خواهان بازشماری کل آرای انتخابات سال ۲۰۱۳ پاکستان است.

به گفته عمران خان: اگر کسی تلاش کند تا از این تظاهرات جلوگیری به عمل آورد، مسئول عواقب آن خواهد بود.

عمران خان هشدار داده است اگر به خواسته های وی بی توجهی شود، سراسر پاکستان از جمله شهرهای بزرگ مانند فیصل‌آباد مرکز صنعتی کشور را به تعطیلی می کشاند.

گریز از فطرت انسانی و ...

اجتماعی، و صحی را در قبال دارد.

که از جمله این مصیبت ها یکی هم از شیوع مرض ایدز و ویروس (HIV) می توان طور نمونه یاد آوری نمود.

در این نشست فرهنگی بر علاوه جوانان پغمان و بگرامی یک عده از عالمان، نخبه گان، فرهنگیان و اهل خبره نیز اشتراک نموده بودند که نماینده گان جوانان هر کدام به نوبه خویش از کارکرد های رییس حزب اسلامی افغانستان در زمان ایفای وظایف شان در مقام وزارت اقتصاد قدر دانی نموده و سهمگیری شان را در کارزار های انتخاباتی ستودند.

صحبت کننده گان همچنان پیرامون سهمگیری ارزشمند جوانان درجامعه و اجتماع تماس گرفته و خواستار انسجام جوانان و اشتراک شان درپروسه مبارزه علیه فساد و نابسامانی امر حتمی و ضروری تلقی نمودند.

د ملي يووالي له حکومت څخه ...

لومړی په افغانستان کې د شرعي قانون پلي کول، د ملي وحدت په حکومت کې ځوانانو ته په مناسبه توګه برخه ورکول، کار اهل کارته سپارل، د هیواد په ټولو وګړو د قانون پوښان پلي کول، دد ینني زده کړو مدرسو علماوو، ښوونې او روزنې ته د پاملرنې غوښتنه وکړه.

وریسې مولوي نبي د بدخشان د خلکو په استازیتوب لومړي مرستیال ته مبارکی وویله او د مبارکی ترڅنګ یې ورته د بریالیتوب هیله وکړه، هغه دملي وحدت د حکومت داجرائیه ریاست له لومړي مرستیال نه په هیواد کې د دایمي سولې او امنیت د ټینګښت غوښتنه هم وکړه.

وروسې د کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالی د پوهنې مدیرنقیب الله خبرې وکړې اوله انجیر محمد خان څخه یې دهغه ولایت دستونزو دحل غوښتنه وکړه.

همدا راز یې د کاپیسا ولایت د اله سای ولسوالي د خلکو په استازیتوب مولوي شریفي لومړي مرستیال ته مبارکي وویله.

او په نوموړي ولایت کې یې د پوهنې له پروسې سره د مرستې هیله وکړه.

په پای کې د اجرایيه ریاست لومړي مرستیال انجینیر محمد خان دوی ته ښه راغلاست ووایه او له خلکو سره یې د دوی د ستونزو په حل کې د مرستې ډاډ ورکړ.

نوموړي همدا راز له خلکو څخه غوښتنه وکړه چې د ملي وحدت له حکومت څخه ملاتړ وکړي.

آغاز ماموریت جدید ناتو ...

حکومت، پارلمان و قوه قضاییه نداشت، اردوی ملی از هم پاشیده بود و نیروهای رسمی پولیس نیز حضور نداشت.

در حال حاضر افغانستان حدود ۳۵۰ هزار نیروی اردو و پولیس دارد و این نیروها توانایی رویا رویی با جنگجویان طالبان را پیدا کرده اند. سربازان اردو و پولیس در سال های اخیر دوشا دوش نیروهای بین المللی با تروریزم و طالبان جنگیدند و در سال ۲۰۱۴ جنگ افغانستان را به تنهایی به پیش بردند.

مقام ها در وزارت دفاع و داخله افغانستان گفته اند که نیروهای امنیتی افغانستان به آن حد توانایی رسیده اند که می توانند تهدید ناشی از حملات طالبان را دفع کنند.

همزمان با ورود نیروهای ناتو از یک سو، جنگ های جبهه یی پایان یافت و از سوی دیگر جامعه جهانی میلیاردها دالر به افغانستان کمک کرد تا نهاد های ویران شده دولتی بازسازی شوند.

نگرانی های «ران پال» از...

روسیه به اروپا و ناتو نیز کشانیده شود.

قطعنامه ضد روسی مجلس نماینده گان امریکاه با ۴۱۱ رای موافق در برابر ۱۰ رای مخالف به تصویب رسیده است. در این قطعنامه، نماینده گان امریکایی ادامه سیاست های تجاوز کارانه سیاسی، اقتصادی و نظامی روسیه علیه اوکراین و گرجستان را محکوم کرده اند. در این قطعنامه از روسیه خواسته شده تا حمایت خود از استقلال طلبان شرق اوکراین را متوقف کرده و تصمیم خود برای الحاق کریمیه به روسیه را لغو کند. علاوه بر این، قطعنامه از روسیه خواسته است تا نیروهای خود را که امریکا مدعی است در اوکراین و گرجستان جابجا نموده به عقب باز گرداند. مجلس نماینده گان امریکا همچنین از اوباما خواسته است تا کمک های دفاعی و آموزشی را در اختیار اوکراین قرار دهد. این قطعنامه همچنین از اعضای ناتو می خواهد تا همکاری نظامی با روسیه را متوقف کنند.

«ران پل» نماینده سابق کانگرس امریکا در واکنش به تصویب قطعنامه ضد روسی کانگرس تصریح کرد که «کانگرس چیزی را تصویب کرده است که من آن را بد ترین بخشی از قانون ارزیابی می کنم. این قطعنامه موجب تحریک بیشتر جنگ با روسیه خواهد شد و می تواند در نتیجه منجر به نابودی و تخریب کامل شود. این طرح در ۱۶ صفحه شامل جنگ تبلیغاتی علیه روسیه است و تنها با مخالفت ۱۰ نماینده کانگرس به تصویب رسیده است».

ران پل در این خصوص می گوید: « این قطعنامه در کنار سایر موارد روسیه را به اشغال اوکراین متهم می کند ولی هیچ گونه سند و مدرکی که بتواند به ساده گی این اتهام را با تصاویر ماهواره یی ثابت کند، ارایه نکرده است».

لازم به تذکر است که جان مک کین سناتور حزب جمهوریخواه از اصلی ترین نیروی محرکه های سوق دادن امریکا و روسیه به سوی تقابل دایمی و حتا جدال نظامی است. سناتور جمهوریخواه امریکایی اخیرا در مصاحبه با ریا نووستی اظهار کرده است: «تردید امریکا در ارسال تسلیحات برای ارتش اوکراین مایه شرمساری و آبرو ریزی است و منجر به تلفات بیشتر ارتش اوکراین خواهد شد. ما به ارتش اوکراین تسلیحاتی را که آنها برای دفاع از خودشان نیاز دارند، عرضه نکرده ایم. واشنگتن به طور مستقیم مسئول کشته شدن بیش از ۴۰۰ نفر از پرسونل ارتش اوکراین است که پیش از این جان خود را از دست داده اند.

مک کین سخنان اخیر خود را در واکنش به تصمیم اخیر دولت امریکا مطرح کرده است.

بر این اساس پترو پروشنکو رییس جمهور اوکراین در جریان سفر ماه جولای خود به واشنگتن خواستار دریافت سلاح های مهلک از دولت اوباما شد ولی واشنگتن با این درخواست مخالفت کرده است. اوضاع اوکراین از اواسط ماه اپریل تاکنون با آغاز عملیات نظامی ارتش این کشور علیه استقلال طلبان با تنش شدیدی روبه رو شده است. در نتیجه درگیری های ماه های گذشته در شرق اوکراین بین نیروهای دولتی و استقلال طلبان تا کنون بیش از ۳۵۰۰ نفر کشته و هزاران نفر دیگر نیز آواره شده اند.

د مصر حکومت افغان ځوانانو ...

ولید شریف چې د ملي وحدت له حکومت څخه یې دمصر د حکومت د بشپړ ملاتړ ترڅنګ د اجرائیه ریاست لومړي مرستیال انجینیر محمدخان ته دمبارکي په خاطر راغلی وو د خپلو خبرو په ترځ کې ډاډ ورکړ چې د مصر حکومت ژمن دی چې افغان ځوانانو ته به په مصر کې دلوړو زده کړو زمینه برابره کړي.

دمصر هیواد قونسلي چارو مسؤول وویل چې، مصر د افغانستان له حکومت سره په هغو تاریخي دوستي وياړي چې د ابن سینا او د سیدجمال الدین افغان له وخته پاتې دي.

هغه ډاډ ورکړ چې هیواد یې په افغانستان کې د دایمي سولې د ټینګښت، فرهنګي او نورو بیلابیلو برخو کې همکاری ته ژمن دي.

دمصر هیواد قونسل داهم وویل چې د مصر په پوهنتونونو کې به د تېر په څېر د افغانانو د تحصیل لړی همغسې جاري وي ځکه چې په تېرو څو لسیزو کې د افغانستان ګڼو اشخاصو لوړې زده کړې ترسره کړې وي.

هغه دموسی شفیق، ډاکټر نیازي ، ډاکټر یوسف نیازي ، استاد سیاف ، پخواني ولسمشر مرحوم استاد رباني اوداسې نورو شخصیتونو دروزنې یادونه وکړه.

داجرائیه ریاست لومړي مرستیال انجینیر محمدخان دمصر د اسلامي هیواد دقونسل څخه دمننې ترڅنګ وویل چې د مصر اسلامي هیواد موږ اوټولې نړۍ ته د فخر ځای دی.

په افغانستان کې د اسلامي ...

اقدام هرکلی کوي او وایي، چې له دې سره به هغه پیسې بانکونو ته ولاړې شي، چې خلکو تر اوسه په کورونو کې ساتلې دي.

د افغانستان د سوداګرۍ خونه وایي، چې د اسلامي بانکدارۍ له ودې سره سم به له بانکونو نه د خلکو د ګټې اخیستنې کچه زیاته او د هیواد اقتصاد به پرمختګ وکړي.

د دې خونې مرستیال خانجان الکوزي، چې د دوشنبې په ورځ د المعالي نړیوال شرکت سره د بانکونو د سیستم د اسلامي کیدو د عامه پوهاوي په اړه ترون لاسلیک کړ وویل، چې دا شرکت به د دې هدف لپاره نړیوال متخصصین افغانستان ته راولیږي.

ښاغلی الکوزی وایي، چې د المعالي شرکت د همکاریو په نتیجه کې به اسلامي بانکداری وده وکړي او خلکو ته به اسانتیاوې رامنځ ته شي:

"په افغانستان کې د اسلامي بانکداری د تشریح لپاره به دوی خپل متخصصین افغانستان ته رالیږي، خصوصي سکتور په ځانګړې توګه بانکونو ته چې په اسلامي بانکوالي کارونه پرمخ وړي دوی ته به د ځه سیستم توضیح اوتشریح کوي مفتیان به راځي او هغه به ورته اسلامي بانکوالی تشریح کوي چې اسلامي بانکوالی روا ده اومشکل نه لري."

ښاغلي الکوزي زیاته کړه، دا مهال د خصوصي سکتورشپېته فیصده کارکوونکي له دې امله له افغاني بانکونو استفاده نه کوي چې سیستمونه یې بشپړاسلامي نه دي.

د اسلامي المعالي مشورتي شرکت استازی محمد یولیف وایي، دوی حاضردي چې په افغانستان کې د اسلامي مالي سیستمونو ملاتړ وکړي.

د افغانستان بانک مسوولین له دې کاره هرکلی کوي او وایي چې ولسمشر اشرف غني پلان لري چې اسلامي بانکداری په افغانستان کې وغوړیږي.

د دې بانک مرستیال خان افضل هډه وال ازادۍ راډیوته وویل، د اسلامي بانکوالی په ودې سره به هغه څلویښت ملیارده ډالره چې خلکو د اسلامي ملحوظاتو له امله په کورونو کې ساتلي بانکونو ته ولاړ شي:

"یوه مطالعه ښیي چې په افغانستان کې له پنځه دیرشو ترڅلویښت ملیاردو ډالرو پورې نغد موجود دي چې تر اوسه مالي نظام ته نه دي داخل شوی چې یو دلیل یې خلک فکري او مذهبي ستونزې ورسره لري د دې مشکلاتو په رفع کولو سره موږ کولای شو یې ګټې پرتې پیسې په کار واچوو دغه د افغانستان په اقتصاد ځانګړی تاثیر لري او موږ به ځان د خود کفایي خواته بیایي."

د افغان چارواکو په وینا دا مهال ټول افغان بانکونه په نړیوالو منلو شویو معیارونو سره خپل کارونه پرمخ وړي خو زیاتوي، چې د اسلامي بانکوالی برخه په کې کمزورې ده.

اسلامي بانکوالی په لومړي ځل په ۱۹۷۵ کال کې په دوبۍ کې رامنځ ته شوه او دا مهال په ټوله اسلامي نړۍ کې مروجه ده.

د اسلامي المعالي مشورتي شرکت چارواکي وایي، چې هر کال په نړۍ اسلامي بانکدارای په سلو کې له پنځلس تر دیرش فیصده وده کوي چې دا په ټوله نړۍ کې په اقتصادي لحاظ ترټولو زیاته وده ده.